الله تبارک و تعالی فرمايلي دي: زه د شريکانو تر ټولو زيات غني يم، نو څوک چې يو عمل وکړي، په هغه کې بل څوک زما سره شريک کړي؛ زه به هغه کس او د هغه شرک پرېږدم

له ابو هريره -رضي الله عنه- څخه روايت دی وايي چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي دي: «الله تبارک و تعالی فرمايلي دي: زه د شريکانو تر ټولو زيات غني يم، نو څوک چې يو عمل وکړي، په هغه کې بل څوک زما سره شريک کړي؛ زه به هغه کس او د هغه شرک پرېږدم».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې الله جل جلاله فرمايلي دي: هغه له شريکانو څخه تر ټولو غني هر څه څخه بې پروا دی، او دا چې انسان کله له اطاعت څخه يو عمل وکړي او هغه د الله اوشريک دی، ځکه هغه له غيرالله لپاره وکړځوي، نو الله تعالی يې پرېږدي او ورځخه يې نه قبلوي، او په خاوند يې ېږته ور واپس کوي. نو عمل بايد خالص د الله تعالی لپاره وي، ځکه چې هغه پاک ذات يوازې هغه څه مني چې خالص د هغه کريم ذات لپاره وي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3342